# د غويي اتمه او اوومه،
# زموږ د تاريخ دوه تورې ورځې!

د غويي اتمه زموږ د هيواد د معاصر تاريخ له تورو ورځو څخه ده. په دغه ورځ کې تنظيمي جنايتکارو مشرانو، خلقي او پرچمي هيواد پلورو سره په خاينانه خوږو خبرو د روسې پر وړاندې زموږ د دردېدونکي ملت د آزادۍ غوښتنې مبارزه خپله کړه او د خپلو پاکستاني او ايراني اربابانو په اشارې سره يې زموږ خاوره د وينې په ميدان بدل کړ او يوازې څلورو کالو د وينې توېونې واکمنۍ پرمهال يې ويرونکي ناورينونه ترسره کړل. ويجاړونکي تنظيمي جګړې، له سر څخه تر پښو ځناوري او فاشيزم، پاټک سالاري، له ۷۰ زره ډېرو کابليانو وژنه، د کابل ښکلي ښار په بشپړه توګه ويجاړونه، د خلکو شتمنۍ لوټول، په اوويا کلنو ميندو او اووه کلنو نجونو جنسي تيرى، زموږ اقتصادي بيخبناوو په بشپړه له منځه وړل، له کابل موزيم څخه له اوويا زرو زيات تاريخي اثارو لوټول او پاکستاني جنيلانو ته سپارل او دغه راز نور چنګيزي جنايتونه د جهادي مشرانو له شرمه ډکې ډالۍ وې، چې تردمګړۍ لمنه يې راغزيدلې ده او تراوسه هم د غويي اتمې او اوومې ځناورانو د خپلو خيانتونو او جنايتونو چاقو زموږ د ملت تر مغزو رسولى دى.

په کابل باندې د ظلم کسبه جهاديانو په يرغل سره ورځ په شپې واخوته او د يو بل په کولمو راويستلو يې پيل وکړ او آن تر دې د دوی پاکستاني او ايراني بادارانو ته هغه خوب چې په کابل کې د اته ګونو او اووه ګونو رهبرانو يو ګډ حکومت رامنځته شي، د منلو خلاف و. له دې امله پاکستان، امريکا او عربستان زر ترزره د منځنيو پېړيو لښکر د طالبانو په نوم سمبال، د يو لاس او مزدوره دولت جوړونې په موخه يې زموږ هيواد ته راواستول او دغه راز زموږ خلک د يو بل د کرکې ډک شيطاني ځواک په دام کې راګير شو.

د انارشيزم فضا او له جهادي او طالبي باندونو څخه د خلکو کرکه او بيزاري، د ښځو پر وړاندې حساسيت او افغانستان د نړيوال تروريزم په مرکز بدلول، په ځانګړې توګه د امريکا داړه مار دولت لپاره د يولسم سپتامبر پيښنه يوه طلايي پلمه وه، چې په نړۍ باندې د واک ترلاسه کولو او نوو ټوکول شوو سيالانو ته سرې سترګرو په ښکاره کولو سره په افغانستان باندې په دروغينو شعارونو پوځي لښکرې راماتې کړي. په دې توګه، د افغانستان خپلواکي چې د روسي نيواکګرو او د دوی لاسپوڅو څخه زموږ د ملت د مبارزو په لوړ قيمت ترلاسه شوې وه، يو ځل بيا مو له لاسه لاړه او هيواد او خلک مو د وينې توېونکي ستر ځواک او د دوی نوکرانو په ولکه کې راګير شو.

امريکا او ناټو، جهادي، خلقي او پرچمي جلادان او جاسوس کسبه او د ملت ضد تکنوکراتان په خپل چوپړ کې نيولې او په نندارېزه توګه د ټاکنو په لار اچولو سره يې د خاينانو او انسان وژونکو رامنځته شوی ګډ دولت زموږ پر خلکو وزغمو او تيره يوه لسيزه کې يې هڅې وکړې، څو زموږ د تاريخ له پاڼو د غويي اتمې او اوومې د وينې توېونې او له تيارې څخه ډک تاريخ ها خوا کړي. د دې کلونو په لړ کې جهادي قصابانو پر ځان عطرونه او پوډر ووهل، څو د «دموکرات» او «ملي» اکټونه وکړي. په دې يې بسنه ونکړه، د ځان لپاره يې د «عمومي بخښنې» قانون جوړ کړ، د غويي اتمه توره ورځ يې «ملي ورځ» ونوموله او په کنډوالو او د بدمرغې واکمنۍ د قربانيانو په ورکو قبرونو يې، هر کال په ګډا او جشنونو پيل وکړ؛ د کابل ناورين يو شمير جلادانو ته د «اتل» او «سولې شهيد» او ... لقبونه ورکړل او په تازه ټګمارۍ حرکت کې يې د درسي کتابونو څخه د تاريخ وروستي ديرش کلونه ها خوا کړل.

ليکن څرنګه کيدونکې ده، زموږ دردېدونکي خلک د خپل هيواد بربادي او وينه بهونه له ياده اوباسي، لاملين يې وبخښي؟ زموږ په تاريخ کې د غويي اتمه او اوومه دوه غمجنې او بدمرغو ورځو په خير دي. که څه هم د غويي اتمې او اوومې ګناه کاران د خلکو له ويرې په زرګونه ځلې له يو بل سره متحد شي، يو بل وبخښي او په تيرو شرمونو پرده واچوي، ليکن هيڅ کله به بريالي نشي، چې د خپلې ځناورۍ داغونه زموږ د خلکو له زړونو او مغزو وباسي. هغه ورځ هرومرو رارسيدونکې ده چې دغه طاعونيان زموږ د ملت د متو په زور د خپلو کړنو سزا ووينې.

د ديني فاشيستانو څخه د خلکو په منځ کې د کرکې لامل دى چې ناچاره په بهرنيو ځواکونو باور لري او څه موده وروسته خپله قبله بدلوي. نن ورځ چې ډېريو يې د امريکا او ملاتړو د غلامۍ زنځير په غاړه کې اچولى دى، د هغوی د دايمي شتون لپاره دعا کوي، د نفل لمونځونه ادا کوي، چې خداى يې له سر څخه د ارباب سيورى کم نکړي. بې اړخه نه ده، دغه د بربادېو او جنايتونو اتلان چې په بې شرمانه توګه د روسي نيواکګرو له ولکې څخه د افغانستان د آزادۍ بنسټ ايښودونکي بولي، نن ورځ د امريکا او ناټو په لاس د افغانستان نيواک د نيکمرغۍ خواله ښايي، ځکه چې د امريکايي صاحبانو د شتون په برکت سره يې مليونونه ډالرو او قدرت ته لار موندلې او د بادار نه شتون د خپل ظلم او زياتي او بې شرمه واک ختميدل ګڼي. امريکا هم چې د خپلو چوپړانو په وسيلې افغانستان يې ارزانه نونۍ په لاس کې درلوده، اوسمهال زمينه جوړونه کوي، چې خپل شتون زموږ په هيواد کې قانوني کړي. په افغانستان کې د دايمي اډو شتون لپاره د يو شمير «کارپوهانو» د پلورل شوو خولو او د امريکا تبليغاتي خپرن ځايونو لکه د «آزادۍ راډيو» د مياشتو مياشتو راهيسې ړانده او خاينانه تبليغات دي، چې هر ويښ ويجدان ټپي کوي. ښکاره ده، د «آزادۍ راډيو» چې د سي آی ای لخوا د دغې موخې لپاره په لاره اچول شوې او تمويليږي، حيرانتيا نلري، ليکن هغه عناصر چې باخبره او يا ناخبره د نيواکګرو په آواز بدل شوي او د مور په ستاينه کې د هيواد پلورنې شعار ورکوي، خپل نومونه د خاينانو او د امريکا بې غيرته لاس موچو په خير په تاريخ کې ثبتوی.

امریکا چې هر هیواد ته لاس اچولی، خلکو ته یې بې له وینې او ویجاړتیا کومه بله ډالۍ نلري. موږ په عراق، لیبیا او دمګړۍ په سوریې کې د امریکا د لاسوهنو شاهد یو، چې ملتونه یې په وینو کې کینول او سرتیري یې د لاس لاندې هیوادونو پر خلکو د جنایتونو او وحشت نوي تاکتیکونه ترسره کوي. نو داسې څرنګه بنایي چې امریکا په افغانستان کې پرمختیا راولي؟

د افغانستان په مختلفو سیمو کې د امریکایي نیواکګرو پروړاندې د دوی له هر جنایت وروسته د خلکو خپل سری مقاومت لیدل شوی دی. لیکن دغه مقاومتونه لاتراوسه خور وور او نامتمرکزه وو، ځکه نو طالبي دجالان د خلکو د اتلولۍ ځینې مقاومتونه په سپین سترګتوب له ځان سره تړون ورکوي، په داسې حال کې چې د امریکایي نظامیانو پروړاندې د زیاترو حملـه کوونکو او معترضینو ژوند، تحصیل او کورنی موقعیت د دې ښودنه کوي چې د نیواکګرو، طالبانو او د دوی د ملاتړو پر خلاف دي. دغه مقاومتونه ورځ تر بلې بـه ډیر شي او داسې ورځ بـه راورسیږي، چې بهرني ځواکونه او د دوی غوړه مالان به په سپکتوب تیښتې ته اړ کړي.

په هیواد کې د امریکا نیواک، اډو او د دوی خاین پالونکو سیاستونو پروړاندې له مبارزې پرته، د جهادي نوکرانو، تکنوکراتانو او خلقي او پرچمیانو پروړاندې مبارزه ناشونې ده او د امریکا ولکې پر وړاندې مبارزه پرته د هغو روڼ اندو پر وړاندې مبارزه چې د امریکا، ایران، پاکستان او نورو هیوادونو دلالي کوي، ناقصه ده. کـه چیرې د خپلـواکۍ غوښـتونکي مدعیان بیا هـم پټه خولـه محافظه کاري خپلـه کـړي او د نیـواکګرو، بنسـټپالو او مـزد اخیستونکو روڼ اندو پر وړاندې فعالیتونه یې له اروپا، امریکا او کاناډا څخه د لاپو ډکو اعلامیو تر صادرولو کچې پورې وي، نو زموږ د درد لیدلي ملت حال به د جهادي او طالبي خرمستیو د دوران په څیر لاهم تریګرۍ شي او امریکا، ایران، پاکستان او نور یرغل کوونکو ته بـه د هیـواد ورانولـو او لـه منځه وړلو لپاره لاډیر وخت په لاس ورشي. په افغانستان کې د آزادۍ غوښتنې او انقلابیتوب څپه په هـر ځـواک کې لـومړی د هغـوی عملي کـار، تنظیمولو او د پرګنیو چمتو کولو پورې اړه لري.

زموږ خلکو د تیرو لسو کلونو په لړ کې د طالبانو او نورو تروریستي شبکو له شکمنو بریدونو او کړنو دا ترلاسه کړي چې د دغو ډلـو کـولمې لـه امریکا، انګلستان او نورو تجاوزکوونکو سره نښتې دي او د پردې ترشا یې استعماري معاملې ادامه لـري. د دې تروریسـتي ډلـو د شکمنو ځانمرګو بریدونو عملیاتونه د کابل ښار په حساسو سیمو کې ځای پر ځای کیږي، لیکن بهرنیو ځواکونو ته هیڅ زیان هم نه وررسي، په داسې حـال کې چې د دوی د برنامو ترتیب او تنظیم تروریستي ډلو پورې تړاو لري. امریکا لاتراوسه هم خپلو سیمه ییزو موخو ته د رسیدلو او افغانستان په لابراتـوار او پـوځي اډو تبدیلولو لپاره له طالبانو، ګلبدیني باندونو او حقاني شبکې ګټه پورته کوي. جهادي او طالبي ډوله اسلامي بنسټپالي شاید په افغانستان کې د امریکا او لویدیځ لپاره تولنیزې اصلي اډې اوسي، ځکه چې دغه مزدور کسبه ډلې هیڅ ډول ملي او انساني حس نلري او د هر بهرني ځـواک لپـاره د بردګۍ منل یې په ذات کې نغښتې ده.

د کرزي کمزوري دولت د سولې د نوم لاندې مسخره شوې ننداري، زموږ ملت ته د نـورو بـدمرغیو او تـورو ورځـو خبـر ورکـوي. زمـوږ خلکـو تجربـه ترلاسه کړې، چې د جهادي، طالبي، ګلبدیني، خلقي او پرچمي سپکو جنایتکارانو د دولت جوړونې سره د سولې بیا راتګ ناشونی دی، که چیرې دغه باندونه لاس په سولې او یوالي پورې کړي، دا به زموږ پرګنیو په غاړو کې د سولۍ پړي ټینګول وي او هغه وخت به امریکایي صاحبانو ته افغانستان په ګډه او دواړو لاسونو وړاندې کړي. ناپوهه عناصر نن ورځ هم پوهیږي، چې طالبان، ګلبدینیان او حقاني شبکه د آی. اس. آی. مردارخور دي او هغـه څوک چې دوی «ورور» او «افغان بچیه» بولي، په خپله د پردیو تړل شوی غلام او په هیواد کې د خپلواکۍ او دموکراسۍ دښمن دی.

موږ کلک باور لرو، تر څو چې د بهرنیو او د دوی رذیلانو له کرزي نیولې د فهیم، خلیلي، سیاف، قانوني، دوستم، ګلبدین، ملاعمر، عبدالله، عطا او د نورو په وینو ککړ لاسونه زموږ د وینو له ډک هیواد څخه لنډ نشي؛ خپلواکي، آزادي، سوله، امنیت او پرمختګ ترلاسه کول به له خوب او خیال څخه نور څه نه وي، زموږ ملت ته به بریالیتوب او پرمختګ ورپه برخه نشي. پس خپلواکي، دموکراسي، ملي یووالی او د خلکو اسوده کیدنه د دغو جلادي هیواد پلورو پروړاندې زموږ د هیواد د ټولو ملیتونو پاڅونو سره کولای شي، ځای ونیسي.

د افغانستان د همبستګۍ ګوند په وار وار سره زموږ د خلکو او هیواد پروړاندې د خیانتونو او بې عدالتۍ په مقابل کې آواز اوچت کړی، یو ځل بیا د غویي اتمې لوی لاریون په لړ کې د افغانستان د بربادۍ ورځ غندي او محکمې ته د غویي اتمې او اوومې جنایت کسبه رهبرانو او طالبانو د راښکلو غوښتونکی دی. زموږ ګوند تعهد کوونکی دی، څو زموږ د بې وزلو خلکو سره هملاس او د وحشت ډار له منځه یوسي او له ټولو خلکو، ملي عناصرو او هیواد دوستو په بیا بیا ځل سره غواړي، څو د خلکو په لیکو کې د کورنیو دښمنانو او بهرنیو یرغل کوونکو پروړاندې پاڅیږي. د بدمرغیو او د بند زنځیر څخه زموږ هیواد او خلکو د وتلو لپاره کومه بله لاره شتون نلري.

**مړه دې وي نیواکګر او د دوی زنځیري سپي!**
**ځلانده او ژوندی دې وي د نیواکګرو او بنسټپالو پروړاندې زموږ د ملت د آزادۍ غوښتنې غبر!**
**د غویي اتمه او اوومه دوه تورې ورځې؛ د لاملینو له منځه وړلو سره له خپلې کلنۍ پاکې کړو!**

## د افغانستان د همبستګۍ ګوند

د۱۳۹۱ کال د غویي ۸مه (د۲۰۱۲ کال د اپریل ۲۷مه)

info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | ۰۰۹۳(۰)۷۰۰۲۳۱۵۹۰